په ملګرو ملتونو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت دايمي نمايندګي
نمایندگی دایمی جمهوری اسلامی افغانستان در سازمان ملل متحد
نیویارک - د امریکا متحده ایالات
نیویارک - ایالات متحده امریکا
PERMANENT MISSION *of* THE ISLAMIC REPUBLIC *of* AFGHANISTAN *to* THE UNITED NATIONS
New York - United States of America

**په ملګرو ملتونو سازمان کې د افغانستان دايمي نمايندګی له خوا د استقلال د سلمې کليزې لمانځنه**

د سپتامبر پر ۱۲ مه، په ملګرو ملتونو سازمان کې د افغانستان د دايمي نمايندګۍ له خوا د هېواد د خپلواکۍ سلمه کليزه په شاندار مراسمو ولمانځل شوه. په دغو محفل کې چې د افغانستان دايمی نمايندګۍ په دفتر کې تر سره شو، تر ۲۰۰ زياتو ميلمنو ګډون کړئ وو چې په کې د ملګرو ملتونو سازمان د عمومی اسمبلی ريس، د ياد سازمان د سرمنشی د کابينې ريس او مرستيالان، سفيران، د ملګرو ملتونو سازمان عالي رتبه مامورين، او په نيويارک کې ميشت افغانان شامل وو.

لمانځغونده په ملګرو ملتونو سازمان کې د افغانستان دايمي استازې آغلې عادله راز په وينا پيل شوه او وروسته د ملګرو ملتونو سازمان د سرمنشی پيغام د هغه د کابينې ريسې له خوا ولوستل شو.

آغلې راز د خپل وينا په ترڅ کې د افغانستان د تاريخ په سختو ورځو کې د افغانستان د وګړو د کلکې ارادې او د ملي يووالي د پياوړې روحيې په اړه خبرې وکړې. هغې راتولونکي ټاکني د افغانانو لپاره يو ښه فرصت وباله چې د دښمن د ګوابښونو سره سره خپل راتلونکی به تعيين کړي.

د ملګرو ملتونه سازمان د سرمنشی په پيغام کې د ياد سازمان او افغانستان تر منځ د دوامدارو همکاريو په اړه يادونه او په نړيوالي ډيپلوماسی کې د افغانستان فعاله ونډه وستايل شوه. همدا راز د سر منشي په پيغام کې په افغانستان کې د سولې په ټينګښت او سوکالي په موخه د ملګرو ملتونو سازمان او نړيوالو شرکاوو د همکاريو پر دوام ټينګار وشو.

633 Third Avenue, 27th Floor, New York, N.Y. 10017
Tel: +1 212-972-1212 | Fax: +1 212-972-1216 | Web: un.mfa.af | Email: un@mfa.af | Facebook & Twitter: AfghanistanInUN